# دَ شلمې صدۍ په پښتو شاعرۍ کښې رومانويت

## (Romanticism Pashto Poetry in 20th Century)

شجاعت علي خان *

**Abstract:**

Romanticism was a literary movement of the late 18th century and early 19th century, a revolt against classicism to a more picturesque, original, free and imaginative style in literature and art, emphasizing inspiration, subjectivity, and the primacy of the individual and rejection of the rationalism which characterized the Enlightenment. Most of the Phasto poets of 20th century were influenced directly or indirectly by this movement.In this paper, we have discussed some of the prominent Pashto romantic poets of 20th century and their works, idea's diction and the ways how they were influenced directly or indirectly. Most of them were the students of Islamia College Peshawar or Edwards College Peshawar or they had studied English Literature.Some references have been given from their poetry to prove the influence of romanticism.

**Key Words:** Romanticism, Litrary movement, classicism, Rationalism, Pashto romantic poets.

رومانويت يو ادبي تحريک دی چې دَ اتلسمې صدۍ په اخر کښې په يورپ کښې شروع شو او دَ ادب هر اړخ يې متاثره کړو- په انګلستان کښې ددې تحريک علمبردار ورډزورتھ، کالرج، بائرن، شيلې او کيټس وؤ-

آکسفورډ انګلش ډکشنري دَ رومانويت په حقله ليکي:

> "A movement in the arts and literature, which originated in the last 18th century, emphasizing inspiration, subjectivity, and the primacy of the individual.
> Romanticism was a reaction against the order and restraint of classicism and neoclassicism, and a rejection of the rationalism which characterized the Enlightment… Writers exemplifying the movement include Wordsworth, Coleridge, Byron, Shelley and Keats"(1)

ژباړه: "دَ ارټ او ادب يو تحريک چې اتلسمې صدۍ په اخر کښې شروع شو- دا تحريک په امد (الهام)، داخليت او دَ فرد په فضيلت زور راوړي-

رومانويت دَ کلاسيزم او نيو کلاسيزم دَ مقرره ترتيب او دَ فطري اظهار په لاره کښې دَ خنډانو ضد او دَ عقليت يا استدلال نه انکار دی او دَ روشن خيالۍ دَ کردار وضاحت کوي.ددې تحريک په ليکوالو کښې ورډزورتھ، کالرج، بائرن، شيلې او کيټس شامل دي-"

---

* PhD Scholar, Department of Pakistani Languages, AIOU

دا تحریک په شلمه صدۍ کښې د برصغیر په ادب کښې را ننوتو او په پښتو شاعرۍ کښې په شعوري توګه دَ تعلیم یافته زلمو دَ شاعرۍ په لاره را داخل شو- په دې کښې اکثر هغه زلمي شامل وُ څوک چې دَ اسلامیه کالج پېښور، ایډورډز کالج پیښور لوستي وو او یا هغه زلمي چې دَ انګرېزي ادب لوستنه ېې کړي وه- په دوې کښې فضل حق شېدا، سید رسول رسا، محمد اشرف مفتون، ډاکټر اسرار، مېجر یونس خلیل، عبدالرحیم مجذوب، هاشم بابر او ډاکټر محمد اعظم اعظم نه علاوه ارباب هدایت الله خان، صاحبزاده محمد ادریس، پروفېسر محمد نواز طائر او رشید علي دهقان او څه داسې شاعران چې دَ انګرېزي ادب دَ لوستنې په سبب ېې رومانوي انداز خپل کړې وُ- په دوي کښې ارباب رشید احمد خان، پروفېسر پریشان خټک، ربنواز مائل، درویش دراني، راز محمد راز، افضل شوق او شاه سعود سعود وغیره هم شامل دي-

رومانوي تحریک دَ کلاسېکي ادب دَ فکري او فني پابندو ردّعمل وُ- چې بنیاد ېې په تصوراتو، فکري ازادۍ، حسن پرستۍ او فطرت پرستۍ ولاړ وو- ددې نه علاوه دَ دې تحریک دَ شاعرۍ ژبه ساده او دَ عام خبرو اترو ژبه وه-

دا تحریک چې کله مشرقي ادب کښې را داخل شو نو اُردو ادب سره سره ئي پښتو ادب هم متاثره کړو- دَ پښتو بعض تعلېم یافته ازاد خیال او باشعوره ادیبانو دا اثرات قبول کړل په دوي کښې وړومبی نوم اشرف مفتون دی-

دوي دَ رومانوي تحریک ټولو تقاضو، خپل باغیانه او جدت پسند فطرت په وجه پښتو ادب کښې هغه رومانوي افکار پېش کړل چې صرف او صرف دَ هغوي خاصه وه- او ددې نه وړاندې پښتو ادب کښې ددې وجود نه وُ-

اشرف مفتون دَ رومانویت اهم تقاضو په حق له لیکي:

"وړومبۍ اهمه تقاضه دا ده چې په احساس او اظهار به هیڅ قسمه پابندي نه وي- دَ زړو روایاتو او قېدونو نه بغاوت او ازادي حاصلول دَ قومیت، مذهب او هر هغه قید چې دَ محدود کېدو تصور پکښې شامل وي- دَ هغې نه فرار او ازادي حاصلول دَ رومانویت وړومبۍ اهمه تقاضه ده- هم په دغه تناظر کښې دَ رومانویت دویمه او اهمه تقاضا دا جوړېږي چې دَ رومانوي احساس خاوند به دَ قوم او مسلک نه بالاتر دَ کل همه انسانیت دَ ازادۍ، ترقۍ، امنیت او خوشحالۍ احساس لري او په انسان به دَ هر قسمه جبر، ظلم او قېد مخالفت کوي- درېمه تقاضا دَ رومانویت داده چې رومانوي شاعر خپله خوشحالي او تسکین دَ فطرت په حسینو اجزاؤ کښې لټوي او په خپله شاعرۍ کښې دَ دغه فطرت عکاسي کوي- وروستۍ اهمه تقاضا دا ده چې رومانوي شاعر دَ هر څه نه زیات حسن پرست وي- دَ کائنات په هره ذره کښې حسن لټوي او دَ شعر په چوکاټ کښې راولي-" (2)

دَ نړۍ رومانوي شاعرانو هم دَ شاعرۍ په حقله هم دغه خيالات دي۔ خو هغوي ډکشن او شعري ژبې له هم خاص اهميت ورکوي۔ دَ هغوي نزدې شاعر له عوامي ژبه استعمالول پکاردي ځکه چې هغه هم دَ معاشرې اوسېدونکی ېو عام انسان دی خو صرف خيالات ېې دَ عام خلقو نه لږ اوچت وي۔

دَ رومانويت بعضې خصوصيات مثلاً منظرنگاري، فطرت نگاري، دَ ساده او عام فهم ټکو استعمال دَ شيدا په اشعارو کښې هر ځاې ښکاري۔ څه رنگ چې انگرېزي رومانوي شاعرانو ورډز ورتھ (Wordsworth)، کالرج (Coleridge)، او تهامس گری (Thomas Gray) ساده او عام فهم ټکي استعمال کړي وؤ او يا څه رنگ شاعري چې اُردو شاعر نظير اکبر ابادي کړې وه هم دغه رنگ شاعري فضل حق شيدا کړې ده۔

خپل يو نظم "دَ ماښام سپوږمۍ" کښې سپوږمۍ ته مخامخ ډېر ساده او عام فهم ټکو کښې فطرت نگاري کوي او په آخر کښې دَ سپوږمۍ مشابهت خپل ژوبل زړه سره کوي او وايي:

بس اخر شوه را معلومه د شيدا غوندې زخمي يې
له ځيگر دې وينې څاڅي ته هم جنوني يې (3)

بيا دَ "کلو سپرلی" نومې نظم کښې شيدا دَ فطرت منظرنگاري ډېر په ښکلې انداز کښې کړې ده:

منگي په مازيگر ډکوي دَ کلو جونه
په تورو لوپټو کښې ئي ځلېږي سپين مخونه
يوې بلې ته دوي را يادوي شوي ودونه
منگي ډکوي دَ سوري لاندې دَ خرولو
راغی سپرلی په کلو، راغی سپرلی (4)

بيا هم په دغه نظم کښې مخکښې لېکي:

مرغۍ دي قسما قسمې سرې او زېړې ئي ښې دي
ټالۍ وهي په څانگو کښې عالم وايې منې دي
په شگو کښې غنچې غنچې خورې ورې چنې دي
دا فرش دې دَ بخمل که پنيرک او غوړېدلو
راغی سپرلی په کلو، راغی سپرلی (5)

فضل حق شيدا منظرنگارۍ او فطرت نگارۍ کښې خاص مهارت لري۔ او دَ "کلو ماښام" نومې نظم کښې دَ هغوي منظرنگاري دَ کتو قابله ده۔ ددې نظم موضوع دَ انگرېزي شاعر Thomas Gray (۱۷۱۶ء – ۱۷۷۱ء) دَ يو نظم "Elegy written in a Country Churchyard" نه متاثره ده۔ دَ تهامس گری نظم "An Elegy Written in Country Churchyard" نه اقتباس:

The curfew tolls the knell of parting day,
The lowing herd wind slowly o'ver the lea,
The plowman homeward plods his weary way,
And leaves the world to darkness and to me.

Now fades the glimmering landscape on the sight,
And all the air a solemn stillness holds,
Gave where the beetle wheels his droning flight,
And drawsy tinkling lull the distant folds.(6)

ورځ ختمه شوه لکه مرګی راغی
دَ څاروؤ کنډک خپل شپول ته روان شو
دهقان ستړی ستومانه دَ خولو نه ډک کورته روان دی
دنیا کښې یو زه یم او تیاره ده۔

تتې نظارې دَ سترګو نه پناه شوې
په فضا کښې خاموشي خوره ده
صرف دَ بونړا دَ وزرو اواز
او دَ ډنګرو په غاړه کښې دَ ګونګرو اواز په غوږو کښې کله کله راشي۔

اوس دَ فضل حق شیدا نظم "دَ کلو ماښام" اوګورۍ:

مارغان جالو ته الوزي
تیاره راغله نمر غروب دی
دهقان کورته را روان دی
په خولو باندې جب جوب دی
زړه هم نه درزیږي ډوب دی
یو اواز د بانګ په شان دی
راته ښکاري چې اذان دی (7)

بیا په دې نظم کښې مخکښې وائي:

زنانه په تنورونو دي پېړۍ په لاس ولاړې
ډوډۍ میندې پخوي به او اوبو له لونې لاړې
شي لوشیلې غوه او میښې که تندئې دي که زاړې
ډیوه مړه په نغري ده د سپوږمۍ رڼا کافي ده (8)

په رومانوي شاعرۍ کښې میاں سېد رسول رسا دَ انګرېزي ادب دَ رومانوي تحريک نه زيات متاثره وو۔ دَ هغوي رومانوي شاعري دَ مقدار سره سره دَ معيار په تول هم پوره ده۔

رومانوي شاعري بې دَ قديم او جديد رجحان ښو ښکلی امتزاج دی۔ رومانوي شاعرۍ په حوالې سره دَ فطرت منظرکشي، مکالمه نګاري او ماضي سره تعلق وغيره دا ټولې خوبۍ دَ هغوي په شاعرۍ کښې موجود دي۔

سېد رسول رسا دَ خپل شاعرانه فکر اظهار دَ پاره دَ نورو رومانوي شاعرانو غوندې دَ مکالماتي شاعرۍ استعمال، ډېر ښکلي جسماني مخلوق سره سره دَ فطرت نظارې او مارغان وغېره هم شامل کړي دي۔ دَ "بېديا ګلونه" کښې وړومبې مکالمه دَ فرعون او موسیٰ په مينځ کښې ده۔ بيا دَ شېطان او انسان په مينځ مکالمه کښې بې دَ نېک او بد موازنه کړې ده۔ مکالماتي شاعرۍ کښې هغوي دَ بنګال رابندرناتھ ټېګور، مرزا غالب او اقبال نه علاوه انګرېزي شاعر شېلی نه زيات اثر اخستې دی۔

سېد رسول رسا خپل نظم "شاعر معشوقې ته" دَ مشهور انګرېزي شاعر شېلې ښو نظم " Love's Philosophy" په تاثر کښې ليکلې دی۔ په دې نظم کښې دَ شاعر کلام زيات تر دَ شېلې نه مستعار دی او دَ معشوقې کلام دَ شېلې جواب دَ رسا خپل اظهار دی۔ دا مکالمه ډېره اوږده ده۔ دَ دواړو نه صرف ښو ښو جُز اخستې شي:

دَ کوهسار ولې حاصل کړو، وصالت دَ دريابونو
درياب هم بې ياره نه دی، هم اغوش دی له بحرونو
دَ بحرونو چپې وينم، ښو دَ بل سره انښتي
دَ سپوږمۍ رڼا ئې غېږ کښې اوده ښکاري په پارونو
دَ ماښام دَ باد چپې وې، په مستۍ په بحر راغلې
دَ سپوږمۍ رڼا ئې ښکل کړه، ځلېدله په موجونو
خوشبوئې دَ باد خوره شوه، په لمن د باد سوره شوه
دَ جانان سره په غېږ کښې، سېل له لاړه دَ سيندونو
زه يوائې ځان ته ناست يم، په ساحل د عشق دَ بحر
که ته غيږ ته مې رانشې، زه به سوزم په اورونو
دَ وصال مسته نشه کښې، درست جهان غاړه غتۍ دي
ته هم راشه اې دلبره! رابلم تا په ورېونو

ګل رخساره عنبر بويه، سروقده ماه جبينه
سيم بدنه ياره راشه، ماکړه موړ په ديدنو (9)

دَ معشوقې جواب:

دَ کوهسار ولې جُدا شي، په فراق درومي دريا نه
دَ بحرونو څاڅکي بيل شي، پورته اوخېژي سما ته
دَ وريځو په لمن کښې، وصالت د يار عنقا شي
څاڅکی بيل شي دَ وريځو، راشي پريوځي دَ غره خوا ته
دَ غره خوا کښې هم هجران دی، ټول جهان ترې په لړزان دی
څاڅکي بيا چينې ولې شي، په غورځنګ درومي دريا ته
دَ ولې قسمت کښې چرته، وصالت دَ غره ليکلی
سلسله داسې قايمه، خدائې پيدا کړه هر اشنا ته
دَ بحرونو چپې کله، پاس سپوږمۍ ته رسېدې شي
مدوجذر دَ عشق سور شي، دا ظاهره ده هر چا ته
دَ ماښام دَ باد چپې وي، چې خوشبو ورته ګل پريښود
د عشق دا رسم و ائين دی، اشنا درومي نا اشنا ته
دَ ژوندون فراق دی، د قدرت مضمون فراق دی
هجر ژوند د شور فرياد دی، وصالت، اجل بينا ته
تر هغې په ما مئين ئې، اې شاعره چې جُدا يم
که اشنا شوم ما به پرېږدې، ته به درومې بل اشنا ته (10)

اوس دَ شېلې نظم اوګورې:

**"Loves Philosophy"**

(I)

The fountains mingle with the river
And the river with the ocean
The winds of heaven mix for ever
With a sweet emotion;
Nothing in the world is single;

All things by a law divine
In one spirit meet and mingle
Why not I with thine?

(II)

See the mountains kiss high heaven
And the weaves clasp one another;
No sister-flower would be forgiven
If it disdained its brother;
And the moonbeams kiss the sea;
What is all this sweet work worth
If thou kiss not me?(11)

محمد اشرف مفتون هم روماني شاعر او دَ پښتو شاعرۍ دَ چمن يو رنګين نوا بلبل دے. دَ سيد رسول رسا غوندې په دوي باندې هم دَ مغربي ادب او فکر اثر دے. اشرف مفتون دَ پښتو په هغه شاعرانو کښې شامل دے چا چې پښتو شاعرۍ کښې رومانويت دَ ټولو تقاضو سره ور داخل کړو. دَ پښتو شاعرۍ دَ روماني شاعرانو په سرخېلو کښې د دوي نوم شامل دے. دَ ټولو نه اوّل دوئي په صحيح معنو کښې په شوخ انداز سره رومانويت په پښتو شاعرۍ کښې داخل کړو.

سيد رسول رسا دوي ته دَ پښتو روماني شاعرۍ بابا آدم وائي. هغوي لیکي:

> اشرف مفتون دَ پښتو ژبې په موجوده دور کښې بيشکه چې دَ روماني شاعرۍ بابا ادم دے. "دَ ژوند سندره" کښې چې ده په کوم رنګ کښې دَ ژوند روماني فلسفه حيات پيش کړې ده دا صرف هم لوې شاعر کولې شي هغه لوې شاعر چې تخيّل لري. دَ مستعار تخيّل، دَ مستعار مضمون او دَ مستعار احساس حاجت مند نه وي. د اوچت تخيّل او جذباتو اميزش، فلسفيانه فکر و دانش کښې رنګيني چې په شاعرۍ کښې کوم جدّت او ندرت پيدا کوي ددې رنګ صحيح ائينه دا ده "دَ ژوند سندره" دَ خاوند لطيفه او سوچه شاعري ده." (12)

دَ انګرېزي روماني شاعرانو ورډزورتھ، شېلې، کيټس، کالرج، بائرن او ټي ايس اېليټ دَ شاعرۍ نه چې کومو پښتنو شاعرانو اثر اخستې وو په هغوي کښې سيد رسول رسا ، يونس خليل، فضل حق شيدا او اشرف مفتون شامل دي. دَ اشرف مفتون "دَ شاعر دنيا" دَ پښتو جديد نظم يوه لويه سرمايه ده. چې دَ فطرت نګارۍ او منظرنګارۍ يو داسې شاهکار دے که ددې مقابله دَ بره ذکر شوې انګرېزي شاعرانو شاعرۍ سره اوکړې شي نو دَ اشرف مفتون دا نظم هر لحاظ سره که منظرنګاري وي او که دَ تخيّل بلندي او يا دَ فکر ګهرائي نو دَ ورډزورتھ "ډيفوډلز" (Daffodils)، دَ شېلې (Nightingale) يا دَ کيټس او بائرن نظمونه دَ مفتون نظمونو ته نه شي رسېدې. دَ مفتون په حقله مشهور دانشور او

محقق پروفېسر داور خان داؤد لېکي:

"دَ اشرف مفتون په شاعرۍ هم دَ انګرېزي ادب دَ روماني شاعرۍ جوت اثر شوی دی خو د دې باوجود بې خپل ماحول او خواوشا نه هم سترګې نه دي پټې کړي. دا خبره دَ فکر وړ ده چې که ورډزورتھ دَ فطرت حسن دَ لوسي ګرې، کیټس بې دَ فیني براني په رنګ کښې نو اشرف مفتون ئي دَ زهرا په ذریعه محسوسوي او څرګنده وي. دغسې لوسي ګرې، فیني براني او زهرا پرله پسې دَ ورډزورتھ، کیټس او اشرف مفتون نظمونو ته افاقي رنګ ورکړې دی." (13)

اشرف مفتون په منظرنګارۍ کښې خپل ثاني نه لري. دَ هغوي نظم "دَ غرونو مینځ" وګورئ:

"پاس په غرونو دي وریځې سپینې سپینې غوړېدلي
که نندافي نه په لاره پاغوندې دي غورزېدلي
که په سپینو لوپټو کښې ښاپېرۍ دي راختلي
یا دَ واؤرو سپین ګټان دي که مرمر دي نړېدلي
دَ قدرت نګارخانه ده زړه راښکونکي منظرونه
مصور مصوري کړي که ساحر کړي سحرونه" (14)

ډاکټر سلمٰی شاهین دَ اشرف مفتون په حقله لېکي.

"دَ هیئتونو په لحاظ د دوي په نظم، مکالمه، سټینزا فارم، معرّیٰ نظم، سانیټ کښې دوي دَ خپلو رنګینو او روماني خیالاتو اظهار کړې دی. دَ دوي په شاعرۍ دَ شېلې او دَ نورو شاعرانو اختر شېرانی اثرات ښکاري." (15)

یونس خلیل دَ تخیّل شاعر دی. دَ خپل قوت تخیّل په زور په شاعرۍ کښې جهانونه اباد کړي. دَ حسن او ښکلا جهان، دَ مستۍ او سرور جهان، دَ احساس او خوشبو جهان، دَ رنګینو او خوشحالو جهان او داسې نور جهانونه ابادول صرف دَ تخیلي شاعر کمال دی. په دې جهان کښې هغوي کله دَ غیرمرئي څیزونو سره هم کلام وي، کله خوشبو او کله شبنم سره او کله دَ هوا په دوش دَ خپل خیالي جنت سیل کوي:

"غلې غلې خوشبوي ده چار چاپېره
لکه سترې شان بهاروي غزېدلی
یو موهومه شان مستي ده په فضا کښې
لکه خیال وي دَ مېخوار په سیل وتلی
لرې لرې ساز غږېږي غلی غلی
لکه خوب وي مستو سترګو له راغلی "(16)

دَ یونس خلیل دَ رومانویت په حقله معروف محقق پروفیسر ډاکټر اقبال نسیم خټک لیکي:

"ښاغلي یونس خلیل ته الله تعالیٰ حُسن بین نظر او حُسن پرور تخیّل ورکړې دی نو هغه په رومان نګارۍ په خپله خپل مثال دی۔ دَ هغه کلام او خاص طور سره دَ هغه بعضې قطعې دَ ښاپېرو دَ وطن ټکړې ښکاري۔ دَ مېجر صاحب دَ روماني کلام په لوستو جذبات تسکین مومي۔ ځکه چې څه وخت دَ پاره دَ بنده تصورات دَ مادي سود و زیان، ګنده ماحول او دَ سماج دَ ناکړدو نه لرې او ډېر لرې یو داسې دنیا ته اورسوي چې هلته فقط حُسن و سرور رقصونه کوي۔ پاک ماحول وي، د رنګونو پړک پړوک وي او دَ خوشبویانو په ورمو ماحول مخمور وي۔" (17)

دَ عبدالرحیم مجذوب شاعرۍ کښې دَ رومانویت ټول خصوصیات موجود دي۔

هغوي خپله شاعرۍ کښې دَغه ټول خصوصیات دَ خپلې مشاهدې او تجزې او دَ نورو ژبو بالخصوص انګرېزي ادب دَ ژورې مطالعې په سبب په داسې رنګ او ښکلي ډول کښې استعمال کړي دي چې پښتو نظم له یې فکري او هیئتي دواړه اړخه یو نوې اهنګ او جدّت وربخښلې دی چې د هغې په وجه دَ هغوي شاعرۍ ته یو نوې اسلوب او انداز ور نصیب شو۔

عبدالرحیم مجذوب دَ حُسن او ښکلا پرستار دی۔ هغوي ته که په فطري څیزونو کښې ښکلا په نظر راشي یا انساني خدوخال کښې نو دَ هغوي حُسن بین نظر هغه خپل کړي او بیا کله چې دَ دغه حُسن څرګندونه دَ خپل فن په لاره کوي نو دَ هغوي تخیّل رنګین وي او دې رنګ امیزۍ په سبب دَ مجذوب خیالي پیکر رنګین، حسین او زړه راښکونکې وي۔

عبدالرحیم مجذوب دَ فطرتي مناظرو منظرکشي په خپلو اشعارو کښې په داسې ډول کوي چې دَ پخواني تهذیب یاد تازه کوي او ورسره ورسره دَ اوریدونکي یا لوستونکي والا په ذهن کښې بغیر څه تاخیر نه دَ هغې عکس منعکس کړي۔ مثلاً دَ کیکر دَ زړې اونې په حقله دَ هغوي اشعار:

"ستا په زېړو ګلو دَ بلبلو نشته ساز
ستا په شنو شاخونو مرغۍ نه کاندي اواز
ته یوه ګنبده دَ زاړه تهذیب اعجاز
خوشي په ظاهره او اباد دې زړه دَ راز
ما دَ وړوکوالي دَ مستیو یاد ګیر نې
دَ کیکر ښائسته اونې" (18)

شاعر دَ فطرتي حُسن پرستار وي۔ فطرتي مناظر دَ هغوي خوښ وي، غر وي که دریاب، باغ وي که مرغزار۔ په غرونو کښې بهیدونکي دَ رېو اوبو چینې وي که نور مناظر خو دَ شاعر د پاره دایو قیمتي اثاثه وي۔

دَ عبدالرحیم مجذوب یو نظم "کوه مري" د داسې قسم منظرکشۍ یوه ښایسته نمونه ده:

"په دې ساوڼ کښې ټوکېدلي رنګا رنګ ګلونه
لکه چې دَ چېتر ښاپېرۍ چې وي راغلې په غلا
داسې ځواني دَ ونو بوټو لاړواله دي
لکه ټوټه چې د ارم وي راوتلي په غلا" (19)

دَ عبدالرحیم مجذوب دَ رومانویت په حقله دَ پښتو اکېډمۍ پېښور پروفیسر ډاکټر سلمیٰ شاهین خپله Ph.D. مقاله "جدید نظم په پښتو کښې" کښې لیکي:

"دَ جدید نظم دَ متوسطینو شاعرانو په دغه ډله کښې د روماني او ترقي پسند مکتب فکر سره چې کوم جدید رجحان په دغه دور کښې عام شو۔ هغه علامت نګاري وه۔ او په دې حواله که مونږ دَ چا شاعر دَ جدیدو نظمونو روماني مثالونه وړاندې کولې شو هغه عبدالرحیم مجذوب دی۔ د دوي نظم په صحیح معنو کښې دَ خپل دور ترجماني کوي۔ که مونږ دَ جدیدیت دَ دغه ټولو رجحاناتو او په فن کښې د نوي تجربو په حواله دَ نظم دَ عالمي معیار دَ نظمونو مقابله کښې وړاندې کولې شو نو هغه دَ عبدالرحیم مجذوب نظم کیدلې شي۔" (20)

دَ هاشم بابر شاعري دَ رومانوي مکتب شاعري ده۔ اکثر نقاد وایې چې رومانویت دَ انسان دَ خوبونو نمائندګي کوي او هم دغه وجه ده چې هاشم بابر دَ هیئت نه زیات دَ ماهیئت قائل دی۔ اسلوب، انداز او فارم هر څنګه چې وي هغوي خپل اظهار له اهمیت ورکوي۔ هغوي دَ نثري شاعرۍ په ذریعه هم خپل تخیّل له ژبه ورکړې ده۔ او پښتو شاعرۍ کښې یې دَ نثري نظم په حوالې سره اضافه کړې ده۔

دَ هغوي هر نظم کښې یو طلسماتي فضا محسوسېږي چې دَ رومانوي شاعرۍ پیژندګلو ده۔ هغوي مونږ ته په وینبه دَ خوبونو دَ دنیا رنګیني ښایې۔ دَ هغوي دَ شعري مجموعې "سیوري" نه تر "ورک موندلي" دَ هغوي شاعري کښې دَ رومانویت یو طلسماتي فضا موجود ده۔ دا شاعري په یو اسیب زده فکري ماحول کښې وجود لري چې اعصاب پکښې دَ یو خاص ذهني حالت کښې معلق دَ یو معمول غوندې کارکوي۔

دَ هاشم بابر یو آزاد نظم "درځم به هسې خو هم" اوګورۍ:

ځان مې که پرانسته پخپله
که وراسته شي پرې
نو بیا به څه کوې که درغلمه
درځم به هسې خو هم

که بیا مې وتړې
بیا هغسې شوم څنګه چې وؤم
که دې ځل پړې دې وراسته نه شي
که زه شولومه

بیا به هم خاورې خاورې
لوټې لوټې
هډ په هډ
خاورین درځم
درځم به هسې خو هم

بیا به مې اوتړې په څه
بیا به لمسون دَ چاوي
څوک به مې او پېژني
ورک له ورایه

زه به درځم په هر رنګ کښې
که خچن که خاورې
زرغونوم به دې شینکي دَ چمن
درځم به هسې خو هم
زه به هم ګل شم پکښې
سپرلی به راشي په موسم
درځم به هسې خو هم (21)

غني خان په جدید پښتو شاعرۍ کښې یو معتبر نوم دی۔ دَ انګرېزي ادب براهِ راست مطالعه ئې کړې وه او دَ انګرېزي ادب نه متاثره شاعرانو کښې شمېرلې کېږي۔ په صحیح معنو کښې دَ پخواني روایاتو نه بغاوت کونکو کښې سرفهرست دی۔ دَ خیال ازادي، فکري او خیالي بغاوت دَ دوي دَ شاعرۍ خصوصیات دي او هم دَ دغه اقدارو په وجه دَ شلمې صدۍ دَ ټولو جدید او رومانوي شاعرانو نه زیات جدید او مختلف دی۔ دَ فکر دَ ژورتیا او خپل جدید انداز په وجه ډېر منفرد ګڼلی شي۔

غني خان فطرت پرست او حُسن پرست انسان وؤ۔ هغوي په پټو سترګو دَ رومانوي دنیا، محلونو، خوشحالو، لیلیٰ او شراب و مستۍ خبرې کولې شي خو په غړېدلو سترګو دَ ژوند تراخه حقیقتونه هم بیانولې شي۔

د دوي په شاعرۍ کښې دَ موضوعاتو يوه پراخه دنيا موجود ده. دَ هغوي دَ منتخب نظمونو دَ مطالعې نه دا اندازه لګي چې دَ هغوي زياته شاعري رومانوي، سياسي او انقلابي ده. دَ تخيّلاتي نظمونو شمېر پکښې زيات دی. هغه تخيّل چې دَ رومانويت يو اهم جُز دی.

خپل يو نظم "جنت او دنيا" کښې دَ تخيّلاتي جذباتو څرګندونه څه داسې کوي:

"چې مستي وي او ځواني وي او جانان وي او ډک جام
ډېر ګلونه لږ ياران وي او غمګين غوندې مابښام
عشق څه اور وي او څه نور وي زړه لمبې لکه تنور وي
په دې ژوند به زه ورزار کړم جنتونه ستا تمام" (22)

دا يو اوږد نظم دی چې هغوي پکښې ساده او عام روزمره الفاظ استعمال کړي دي او الله تعالیٰ سره هم کلامي او دَ بغاوت انداز هغوي دَ رومانوي شاعرانو په صف کښې اودروي. بيا عام فهم ژبې استعمال هغوي ته ځانګړې حيثيت وربخښي. هغوي بالکل فطري ژبه استعمال کړې ده څنګه چې دَ انګرېزي رومانوي شاعرانو ورډزورتھ، شيلي او کيټس نظريه وه.

دَ غني خان دَ شاعرۍ ژبه هغه ده چې په کومه کښې هغوي عام خبرې کوي. ترديې چې د عام فهم ژبې په خاطر هغوي دَ بعضې شاعرانه پابندو نه سترګې پټې کړي دي. رديف، قافيه، بحر او دَ وزن دَ پابندو بې څه خيال نه دی ساتلی.

تخيّل دَ رومانوي شاعرۍ يو لازمي عنصر دی. غني خان په تخيّل کښې دَ خپلې مرضۍ دنيا اباده کړې ده او په دې دنيا کښې دَ فطرت نګارۍ نه هم کار اخلي. دَ هغوي شاهکار نظمونه دَ تخيل د پاره مشهور دي. مثلاً: "زه جادوګر يم"، "زما ليلیٰ"، "زما محل" او داسې نور.

دَ هغوي يو نظم "زما محل" اوګورئ:

"دَ سيند دَ سپينو شګونه مې جوړ کړو يو محل
دې تول خرکي جهان ورته حېران حېران کتل
قالين مې پکښې خور کړو دَ سرو پاڼو دَ ګلاب
اوچت بې ديوالونه وو سازونو د رُباب
بيا رنګ مې ورله ورکړو دَ خوبونو دَ شباب
هر ګل مې ورله راوسته ماليار مې کړه بُلبُل
نسيم په خندا راوړل زېړ ګلونه دَ چامبېل
شراب مې ورله ورکړل بيا دَ اوښکو دَ امېل
يواځې زه بادشاه ومه په سر مې تاج دَ غم

په خوا کښې مې دلبره وه مسکۍ ستر‌ګې په غم
په غاړه چې امېل ښائسته دَ څاڅکو دَ شبنم
ماشومه نازبينه پاکه ښکلی لکه ګل" (23)

دَ غني خان خيالات دَ انګرېزۍ رومانوي شاعر کيټس (Keats) سره تر څومره حده پورې ملاوېږي د دې اندازه د دې اشعارو نه اخستې شي۔

دَ کيټس نظم "Ode to Autumn" اوګورئ:

Seasons of mist and mellow fruitfulness,
Close bosom – friend of the maturing suns
Comprising with him how to load and bless
With fruit the vines that round the thatch eves run;
To bend with apples, the moss'd cottage-trees;
And fill all fruit with ripeness to the core;
To swell the gourd, and plump the hazel shells
With a sweet kernel; to set budding more,
And still more, later flowers for the bees,
Until they think warm days will never cease,
For summer has o'er-brimmed their clammy cells? (24)

کيټس د دې نظم په اخري ستهېنزا کښې دَ فطرت حُسن بيانوي او وايې چې سپرلی تېر شو او خزان راغلو۔ داسې به دا خزان هم زر تېر شي او بيا به سپرلی راشي۔ دَ مرغو هجرت، کله چې هغوي ګرمو علاقو ته هجرت کوي يو خاص فلسفه لري۔ دې سره زمکه، نمر او دَ موسمونو په خپلو کښې تړون، او د دې تړون په وجه دَ وونو ميوې پيدا کول۔دا ټول هر څه ډېر ښکلي انداز کښې بيان شوي دي:

Where are the songs of spring? Ay, where are they?
Think not of them, thou hast music too, ---
While barred clouds bloom the soft-dying day,
And touch the stubble-plan's with rosy hue;
Then in a wailful choir the small gnats mourn
Among the river swallows, born aloft
Or sinking as the light wind lives or dies;
And full-grown lambs loud bleat from hilly bourn;
Hedge-crickets sing; and now with treble soft
The red-breast whistles from a garden-croft;
And gathering swallows twitter in the skies (25)

هم دغه رنګ خيالات دَ غني خان په شاعرۍ کښې هم په نظر راځي۔ ۔ دَ هغوي نظم "سپرلی" کښې اُميد او توقعات حېرانتيا سره ګډمډ ملاوېږي۔ دا خيالات څه دا رنګ دي:

وګوره جانانه دَ تياري نه رڼا جوړه شوه"

نوې سپرلی راغی دَ ګلونو دنیا جوړه شوه
زمکه لکه شاړه اے بوره ورکه سپوره وه
چرته مروره مسته تلې دَ خپل کوره وه

پاڼې غتې نه وې په هر بوټي دَ مرګ سورې وو
شړنګ د ژوندون غلې مېخانه ېې تشه توره وه
یا ساندې او اوښکې یا ترې سپینه خندا جوړه شوه
وګوره جانانه دَ تیارې نه رڼا جوړه شوه

یا ژوندون ارمان وو یا رنګین نشه رنګونه شو
مینه رو مسکۍ شوه په خندا ورته ګلونه شو (26)

د دې نظم په اخر کښې غني خان وائي:

"خانده غني خانده بیا دې ورانه دنیا جوړه شوه" (27)

حُسن د رومانوي شاعرانو په نزد ډېر اهمیت لري۔ کیټس له پاره خو حُسن هر څه دي۔ دَ هغوي په نزد حُسن ابدي خوشحالي ده او دا دَ هغوي د پاره دَ ټولو نه غټ صداقت دی۔

کیټس وائي:

"A thing of beauty is a joy for ever:
Its loveliness increases; it will never
Pass into nothingness."
(Endymion) (28)

او بیا دَ "Ode on a Grecian Urn" په اخري سټېنزا کښې وائي:

"Beauty is truth, truth beauty's – that is all
Ye know on earth, and all ye need to know." (29)

غني خان دا حُسن خپل معشوق او خپل خالق سره ترې او داسې وائي:

حُسن دې بس حُسن چې هم خدائې او هم جانان دی
دې فاني جهان کښې بل مشال د لامکان دی
یو دَ ګلاب مخ کښې چې ښکاره کوم جوابونه دي
نشته یو هم نشته دَ منطق په کتابونو کښې (30)

په انګرېزي شاعرۍ کښې دَ رومانویت د پاره "خوب" یو اهم جُز ګڼلی شي۔ دَ خوب کیفیت یا

تخيّلاتي کيفيت په رومانوي شاعرۍ کښې هر ځاې ليدې شي۔ قمر راهي هم دا کيفيت ډير په ښکلي ډول استعمالوي۔ دَ هغوي يو نظم "خوب" بالکل تخيّلاتي انداز کښې دی۔ او د دې نظم يو يو بند دَ ښکلا دَ پاره موزون دی۔ په دې نظم کښې لکه دَ ورډزورتھ غوندې زړه تجربه يادوي او ليکي:

په نغري کښې به خوړلن وو او ډېوه به مړه وه
دَ مړو لوګو په دائره کښې به ېوائې پروت ووم (31)

دا بالکل داسې ښکاري لکه چې ورډزورتھ دَ نرګس دَ ليدو نه پس دغه نظارې را يادوي او مزې اخلي۔ قمر راهي هم زړه تجربه يادوي۔ په دې نظم کښې وړاندې ليکي:

زه به يادونو ته "تر غاړه وتم" غلې به شوم
څه "طلسمي غوندې دنيا" به ځان ته "راښکلمه"
زما "ريښې ريښې وجود" به يو ځل بيا رفو شو
چې "دَ ښو سوزن کارې" ده که مې خپل هنر وؤ (32)

دې نظم کښې هغوي دَ بهترين انځورګري (Imagery) انقلابي علامات او تجريدي تجسيم نه کار اخلي۔ مثلاً هغوي وايي:

ص "دَ تېلو زېړه شان رڼا په رپ رپي وه"

يا بيا دا شعر:

ص "دَ شغلو ژبې په تيارو پسې باهر راوتې"(33)

دَ شېلې يو مشهور نظم "Ode to West Wind" يو تخيلا تي نظم دی۔ دَ قمر راهي۔ دَ "زينو"، "زما فکر"، "مسيحا"، "Immersion" او "احساس" نومې نظمونو موازنه دَ شېلې دغه نظم سره کيدې شي۔

شېلې چې کله دَ خزان دَ هوا خوش اميدۍ ته مخاطب شي او وايي چې " If winter comes, can spring be far behind" نو قمر راهي خپل نظم "زما فکر" کښې وائي چې:

"زما فکر به ازاد وي تخيّل به مې سپين باز وي
دَ تيارو دې لاس ازاد وي سپين سحر به مې همراز وي" (34)

دَ قمر راهي نظمونه "سانده" او "Confusion" دَ شېلې نظم "Stanza written in Dejection" سره ډير مطابقت لري۔ دَ شېلې دَ نظم دا اشعار وګورئ:

Alas! I have nor hope nor health,
Nor peace within nor calm around,
Nor that content surpassing wealth.
The sage in meditation found,

And walked with inward glory crowned-
Nor fame, nor power, nor love, nor leisure. (35)

اوس دَ قمر راهي دَ نظم "Confusion" دا اشعار وګورئ:

اوس په ګودر دَ چپ څادر خور دی
مازيګري کښې پې ميله نه لګي
اوس په دې کلي کښې رومان چرته دی
دلته دردونه دي درمان چرته دی
اوس چې رومان او انقلاب دواړه اوده دي
زه حق حېران يم چې دا پاتې عمر څنګه تېر کړم (36)

دَ انګرېزۍ رومانوي شاعر رابرټ براؤننګ دَ موضوع، انداز او اسلوب په لحاظ سره طبع زاد شاعر وؤ. دَ هغوي ډرامائي خودکلامي (Dramatic Monologue) ډېر مشهور دي. او دا خوبي دَ قمر راهي په شاعرۍ کښې هم څرګنده ده. بلکې څه ځايونو کښې خو دَ براؤننګ نه هم وړاندې دي. دَ قمر راهي نظم "Evergreen" اشعار دَ براؤننګ نظم "My Last Duchess" سره سمون خوري.

دَ قمر راهي دَ نظم "Evergreen" دا اشعار اوګورئ:

ماته هم هغسې لا لخته شان جينۍ ښکارېږي
ما چې دَ نن نه روغ پنځوس کاله اول به ليدې
چې دَ کابل منېې راسرې شي نو زه کور وکر شم
ستا رخسارونه مې دَ ذهن په پرده طلوع شي (37)

دَ اجمل خټک دَ شاعرۍ زياته حصّه قام پرستۍ سره تړون لري خو ولې رومانويت هم پکښې ښه جوت دي.

منظرنګاري، علامت نګاري، مصوري، کردارنګاري، مکالمه، قيصه يا واقعه لوستونکي له مزه ورکوي او هغه په داسې انداز سره مقصد ته اورسوي چې دَ نظم ختمېدو سره دَ هغه دَ ارزو تکميل هم شي.

په بو اوږود نظم "پېغله" کښې دَ بو باحياء او حسينې پېغلې خدوخال (کړه اوړه) او دَ چال منظرکشي په داسې انداز سره کوي چې لوستونکې هغه ښايسته پېغله خپل وړاندې ګرزېدونکې محسوسوي. مثلاً:

دَ زرکې تګ بې دَ پانزېبو انګازې هيرې کړې
لنډ قدمونو دي دَ زېروبم پردې هيرې کړې (38)

يا دا اشعار:

بوه دَ میني باډیوه ده چې خارو کښې ګرځي
لکه دَ حورو خوب راغلې وي ژوندو کښې ګرځي
هغه ده ودرېده راپرېوته خوره وره شوه
ګلونه مخکښې ګل ډلۍ لاړه ذره ذره شوه (39)

اجمل خټک رومانویت او فطرت نګاري هم دَ کمال کوي۔ دې لحاظ سره دَ بلند تخیّل مالک دی۔ هغوي جدید پښتو نظم ته نوې خیال، نوې شعور او نوې انداز وراوبخښلو۔ دا ټولې خوبۍ هغوي خپل نظم "سپرلی" کښې یو ځاې کړي دي۔ دَ دې نظم یو څو اشعار:

که په یو ګُت کښې بوه ځانګه ټوله ګل شي نو څه
سپرلی هغه چې هم په ګل او هم په خار راشي
دَ بو غوټۍ نیمې خندا ته څوک خندا نه وایي
سپرلی هغه چې ناقلارو ته قرار راشي
چې مې ترسبرې او چې شونډې ځاځکي ځاځکي پسې
چې په سپرلي کښې دَ جامونو په کړنګار راشي (40)

په دې نظم کښې فلسفه هم ده او رومانویت او ترقي پسند خیالات هم۔

دَ رومانویت اثرات دَ ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې هم ښه ځرګند ښکاري۔ د دوي په حقله ډاکټر عبد الله جان عابد لیکي:

"جدید شاعری میں تو اُن کا مقام و مرتبہ کیٹس اور ورڈزورتھ وغیرہ جیسے بلند پایہ انگریزی شعراء سے منسوب کر کے متعین کیا جاتا ہے۔" (41)

ژباړه: (جدید شاعرۍ کښې دَ هغوي مقام اؤ مرتبه کیټس او ورډزورتھ غوندې بلندپایه شاعرانو سره منسوب او متعین کولې شي)

محمد اعظم اعظم دَ انګرېزۍ روماني شاعرانو غوندې حماسي نظمونه (Epic) هم لیکلي دي۔ په دې کښې دوه اوږده حماسي نظمونه "دَ عربو سپوږمۍ" چې دَ عربو دَ جهالت او دَ اسلام په آمد او "یو تصویر یو منظر" چې دَ ویتنام دَ جنګ په حواله لیکلې شوي دي، ډېر مقبول دي۔

د دوي نظم "یو تصویر یو منظر"نه یو څه اشعار:

هر طرف ته یو وحشت دی
شور او چغې دي افت دی
مزکه اور دې ژوند دوزخ دی

زندګي ده که قيامت دی

وداني چرته کښې نشته
يا لمبې دي يا ايرې دي
او دَ مزکې نه رواني
دَ سرو وينو فوارې دي

هر خوا ګرګې او لاشونه
په ډېرو ډېرو پراته دي
انسانان ترې نه بوړنېږي
ټپوسان ترې نه ماړه دي (42)

ددې شاعرانو نه علاوه نور هم ډېر پښتانه شاعران دي چې دَ انګرېزي ادب دَ رومانويت نه په څه نه څه طريقه متاثره دي۔ او خپله شاعرۍ کښې دَ دغه خيالاتو څرګندونه کوي۔

دَ ټول بحث نتيجه دا شوه چې:

(۱) رومانويت دَ اتلسمې صدۍ يو ادبي تحريک دی چې په داخليت او دَ فرد په فضيلت زور راوړي۔

(۲) رومانوي تحريک دَ کلاسيکي ادب دَ فکري او فني پابندو ردّعمل وؤ۔ چې بنياد يې په تصوراتو، فکري ازادۍ، حسن پرستۍ اور فطرت پرستۍ ولاړوؤ۔

(۳) په پښتو شاعرۍ کښې دَ رومانويت اثرات دَ شلمې صدۍ په آغاز کښې را څرګند شو او زيات هغه ځلمي شاعران ددې نه متاثره سو کوم چې دَ اسلاميه کالج پېښور لوستونکي وؤ او يا هغوي دَ انګرېزي ادب لوستنه کړې وه۔

(۴) دې شاعرانو په پښتو ادب کښې رومانويت په شعوري توګه را داخل کړو او خپله شاعري يې معرىٰ نظم، آزاد نظم، نثري نظم، سانيټ او کينټوز په شکل کښې لوستونکو ته وړاندې کړه۔

(۵) دَ پښتو رومانوي شاعرانو شاعري دَ انګرېزي رومانوي شاعرانو دَ شاعرۍ سره څنګ په څنګ دَ مزل کولو جوګه ده۔

## حوالې

(1) "The Oxford Dictionary of Phrase & Fable" (2 ed.), Oxford University Press, 2005.

(2) مفتون، محمد اشرف، "دَ ښکلا هنداره"، "سکونډراږ"، پېښور یونیورسټي بُک ایجنسي، ۱۹۸۱ء، مخ: ۴۶

(3) شېدا، فضل حق، "دَ ماښام سپوږمۍ"، "اسوېلي" یونیورسټي بُک اېجنسي پېښور، مئ ۱۹۶۱ء، مخ: ۳۸

(4) شېدا، فضل حق، "دَ کلو سپرلی"، "اسوېلي"،مخ: ۴۲

(5) ایضاً، مخ: ۴۳

(6) Gray, Thomas: Selected Poems of Thomas Gray, Charles Churchill and William Cowper, Ed. With an Introduction and Notes by Katherine Turner, London, Penguin Books, 1997, page: 480

(7) شېدا، فضل حق، "دَ کلو ماښام"، "اسوېلي"،مخ: ۴۷

(8) رسا، سېد رسول، "شاعر خپلې معشوقې ته"، "د بېدیا ګلونه"، نوې اېډېشن، پښور، یونیورسټي بُک ایجنسي، س-ن، مخ: ۱۴۷

(9) رسا، سېد رسول، "معشوقه"، "د بېدیا ګلونه"،مخ: ۱۴۸

(10) P.B. Shelley, "Love's Philosophy", A Choice of Shelley's Poetry by Faber & Faber, London, Great Britain, 1971, page: 589

(11) مفتون، محمد اشرف، "دَ ژوند سندره"، مقدمه، "سکونډراږ"،مخ: ۷۹

(12) داؤد، داور خان، "پښتو نظم کښې دَ مېجر یونس خلیل برخه"، "څېرنه او کره کتنه"، لاهور، ملت پرنټرز، وړومبې اېډیشن، جنوري ۲۰۰۳ء، مخ: ۱۵۰

(13) مفتون، محمد اشرف، "دَ غرونو مېنځ"، "سکونډارږ"،مخ: ۱۲

(14) سلمیٰ شاهین، پروفیسر، ډاکټر، "جدید نظم په پښتو کښې"، پېښور، جدون پرنټنګ پریس، ۲۰۰۳ء، مخ: ۳۹۳

(15) یونس خلیل، مېجر، "تنهایي"، "لاله زار"،مخ: ۴۶

(16) خټک، محمد اقبال نسیم، پروفېسر، ډاکټر، "دردانې"، (دریم اېډیشن)، پېښور، محله جنګي، تاج کتب خانه، مخ: ۳۱۰، ۳۰۹
(17) مجذوب، عبدالرحیم، "دَ کیکر ښائسته ونې"، "دَ مجذوب کلیات"، پېښور، دانش کتاب ګهر، ډهکي نعلبندي، قصه خواني، س-ن، مخ: ۳۸
(18) مجذوب، عبدالرحیم، "کوهِ مري"، "دَ مجذوب کلیات"،مخ: ۲۲
(19) سلمیٰ شاهین، پروفېسر، ډاکټر، "جدید نظم په پښتو کښې"،مخ: ۱۲۶
(20) بابر هاشم ، "درځم به هسې خو هم"، "هم هغه لټون"، اسلام اباد، نېشنل بُک فاؤنډېشن، ۲۰۰۵ء، مخ: ۱۶۹، ۱۹۸
(21) خان غني ، "جنت او دنیا"، لټون (دَ غنیِ کلیات – نوي اېډیشن)، پېښور، یونیورسټي بُک ایجنسي، خېبر بازار، اپریل ۲۰۰۸ء، مخ: ۲۲۶
(22) خان غني ، "زما محل"، "لټون"،مخ: ۵۷۴
(23) John Keats, "Ode to Autumn", (St-1), Complete Poetry of Keats and Shelley, New York, The Modern Library, page: 193
(24) John Keats, "Ode to Autumn", (St-1), Complete Poetry of Keats and Shelley, New York, The Modern Library, page: 194
(25) خان غني ، "سپرلی"، "لټون"،مخ: ۲۵۵
(26) همدغه
(27) John Keats, "Ode to Autumn", (St-1), Complete Poetry of Keats and Shelley, New York, The Modern Library, page: 185
(28) همدغه ، مخ: ۱۸۶
(29) خان غني ، "شپه وه دَ سپرلي"، "لټون"،مخ: ۴۴۱
(30) راهي قمر ، "خوب"، څېره، کوثر پرنټنګ پرېس، ۱۹۹۸ء، مخ: ۲۷۶
(31) همدغه ، مخ: ۲۷۴
(32) همدغه ، مخ: ۲۷۳

(33) راهي قمر ، "زما فکر"، "څيره"،مخ: ۱۸۷

(34) P.B. Shelley, "Stanzas written in Dejection" (Stanza-111), Complete Poetry of Keats and Shelley, page: 600

(35) راهي قمر ، "کنفيوژن"، "څيره"،مخ: ۲۴۰

(36) راهي قمر ، "ايورگرين"، "خلا"، مردان، کوثر پرنتنگ پريش، ۲۰۰۲ء، مخ: ۵۲۷

(37) Robert Browning, "My Last Duchess", (Line 44-48), John Woolford, Daniel Karlin, "The Poems of Browning", London, Parson Education, 1999, page: 175

(38) خټک اجمل ، "پيغله"، "دَ غېرت چغه"، پېښور، يونيورستي بُک ايجنسي، خيبر بازار، ۲۰۰۷ء، مخ: ۱۱۱

(39) همدغه، مخ: ۱۱۳

(40) اجمل خټک، "سپرلي"، "دَ غېرت چغه"،مخ: ۳۰

(41) عابد، عبدالله جان، "پشتو زبان و ادب کی مختصر تاريخ"، پېښور، يونيورستي پبلشرز، ۲۰۰۶ء، مخ: ۲۵۵

(42) محمد اعظم اعظم، "دَ عربو سپوږمۍ"، "جنون او ژوندون"، پېښور، محله جنگي، اباسين پرنتنگ پريس، جون ۲۰۰۸ء، مخ: ۲۶۰